مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی آرین ۲۰۲۰/۰۳/۱۵

# نادودي

## لنډه کیسه

باور مي نه کېده، کلونه تېر شول، هغه په فرخار کي اوسیده، خورا هوسا ژوند یي درلود. د رنګارنګ ګلونو او د هر ډول میوو لرونکو ونو ښکلي باغ یي جوړ کړی و. د باغ په یوه څنډه کي جګه سوپه او تر څنګ یي د تکو شنو اوبو ډکه ویاله بهیده چي د ویالي په اوبو کي به د خال لرونکو کبانو تګ راتګ له ورایه معلومیدل، دغه کبان تک سپین د تورو او سروخالونو سره دومره ښکلا لرله چي که یو وار چا لیدلی وای، نو هر کال خو به یو ځل حتمی د لیدلو او خوړلو لپاره ورتلل. ځکه چي دغه کبان ډېر نامی، خواږه او خورا مشهور کبان وو.

هغه غواوي، پسونه، بزي او د وزلوبو خورا قیمی اسان هم لرل. که درته ووایم ممکن یوازي یي چای، بوره او صابون له ښار نه اخیستل او نور ټول د اړتیا وړ توکي، د ده له خپل کوره بسیا کېدل.

دی د هغه ځای د خلکو له قوله ناقل و، ډېر پخوا چي هغه سیمي ځنګل او د اوسیدو نه وي، هلته ورته یو څه ځمکه د هغه وخت د قطغن تنظیمه ریاست ورکړی وه، یانی د هغه ځای د هغی زمانی نوم تالقان او قندوز وو. هیڅا زړه نه ښه کاوه چي هلته ورشي، ځکه د وحشی ځناورو له لوري د مرګ ژوبلي خطر خورا ډیر و. دا متل له هغه وخت نه را پاتی دی چي:

«اګر مرګ میخواهی قندوز برو»

شمس الدین اکا چي د شمسو کاکا په نامه یادیده د هغه وخت د تالقانو د ښار نه څو میله وړاندي یي یو څه ځنګل ځمکه اباده کړي وه او د خپل زیار او زحمت په پایله کي یي د ځان او خپل یو نازولی زوی لپاره ښه او د منځني حالت ژوند برابر کړی و. هغه د فرخار په همدغي سیمه کي ژوند کاوه چي مخکي ورته اشاره شوي ده.

د دغه ځای اوسیدونکو یي خورا احترام کاوه. د سیمی له خلکو سره یي راکړه ورکړه درلوده، یو، دوه واره یي د کلي ملکي هم کړی وه.

مېرمن یي شازیه هم خورا مهربانه او زړه سواندي ښځه وه، په کلي کي ټولو ورته ترور ویلی. شمسو او شازیه دومره یو له بل سره خواږه وو، کله به چي یو ځای ګرزیدل نو، لارویو به یو بل ته سره ویل چي:

«هغه ده لیلا او مجنون راغلل.»

دوی دواړو یوازي یو زوی درلود او ټل یي آرمان دا و، چي ښه واده به ورته کوي، د ډول او سرني سره به د واده ورا په خپله دروازه ننباسي.

شمسو کاکا خپل زوی، سمندر ته رښتیا هم همغسی واده وکړ، چي ټل یي آرمان کاوه.
خدای ورته همداسی اینګور وربه برخه کړه چي ټل به یي د خپل خسر او خواښي داسي خدمت او پالنه کوله، لکه سکه لور.

شمسو کاکا خدای په دوو غبرګونو لمسیانو ونازاوه او ښاپیری د دوو ماشومانو مور شوه. د ماشومانو نیکه او نیا د خوشالی جشنونه ونیول، او دواړو په ګډه د خپلو لمسیانو نومونه سلیم او نسیم کیښودل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د لمسیانو د زلمیتوب په درشل کې لومړی شمسو کاکا او بیا دوه کاله وروسته شازیه ترور په حق ورسیدل او د دوی د ژوند ځراغونه ومړل.

د سمندر دوه زامن د ده او میرمنی لپاره د ژوند هر څه وو، د پخوا په شان یې هیڅ ستونزي نه درلودي له پلاره ورته هر څه راپاتي وو.

یوازی اوس ورو، ورو حالت مخ په بدلیدو و. پلار او مور کوښښ کاوه چې دواړو ورونو ته په یو وار واده وکړي، خو سلیم غوښتل چې واده وکړي، مګر نسیم د اوس لپاره د واده لیوال نه و.

پلار او مور د خپل هوس او آرمان د پوره کولو په خاطر د سلیم د واده له پاره بندوبس وکړ، جرګه شول او د ګدامدار شامیر لور ورمه یې په شان او شوکت ورته واده کړه.

کال لا تیر شوی نه و، چې د حکومتي ځواکونو او د جهاد په نوم مجاهدینو تر منځ چې د پنجشیر له دري راکوز شوي وو، سخته جګړه ونښته. ویل کیږي چې په دغي جګړي کې ډیرو خپل سرونه خاوري کړل، چې د جګړي میدان د سمندر د کور یوه برخه هم وه.

سیمه د وسلوالو ګروپونو له لوری ونیول شوه، چې په نتیجه کې یې د دغي سیمي د پښتنو ځوانانو یو شمیر ځلمیان له حکومتي قوواو سره د مرستي په نامه له ځانه سره اسیران یوړل چې سلیم او نسیم دواړه ورونه هم د دغو اسیرانو په ډله کې شامل وو.

کله چې اسیران خپل قوماندان ته ورولي، هغه یې د وژلو امر کوي او په دغه ګروپ کې چې نسیم دی، پري ډزي کوي تول د وژني په حالت کې همدلته پریږدي او دا بل ګروپ له ځانه سره بیایي.

څو ساعته وروسته چې د کلي خلک او سمندر راځي، ګوري چې تول یې ویشتی او مړه دي، مګر نسیم کې اوس هم ساه شته، نو په بیړه یې روغتون ته بیائي او تر درملني وروسته، له مرګه بچ کیږي.

پنځه کاله وروسته د دویم ګروپ نه چې سلیم هم په کې و، یو بل د کلي ځوان له اسارت نه په تیښته ځان خلاصوي او کلي ته راځي او چې کله د کلی خلک تري پوښتنه کوي چې د نورو په هکله خبر ترلاسه کړي.
شاه مرد چې د ۵ کالو اسارت وروسته راتښتیدلی و، داسي وائي:

«کله چې یې زموږ د ډلی د لومړي ګروپ پر هلکانو ډزي وکړي، وروسته یو بل قوماندان، مشر قوماندان ته غوږ کې یو څه وویل، بیا امر وشو چې موږ پنجشیر ته ویسی. ربښتیا هلته یې یوه معدن ته بوتلو دا پنځه کاله یې پر موږ د معدن په سختو سوړو او غارونو کې کار کاوه، د کار په جریان کې چې موږ شیړو کسانو یو ځای کار کاوه، کمر راولوید نور زما پنځه واړه ملګري هلته مړه شول، په خپلو سترګو می ولیدل چې د هغوی مړي یې – چې سلیم هم په کې وو – یو نا معلوم ځای ته د ښښولو لپاره یووړل او زه پټ شوم په تیارو کې راوتښتیدم او ځان می دلته راورساوه.»

کله چې سمندر په دی پوه شو چې سلیم نور مړ شوی، فاتحه یې واخیستله، د یوه کال د پوره کیدو وروسته یې د دود او سیمه ایز رسم و رواج په نظر کې نیولو سره په داسی حال کې چې د نسیم هیڅ خوښه نه وه ورمه ورته نکاح کړه.

د نسیم او ورمي د واده وروسته خدای تعا لی هغوی ته یوه لور او یو زوی ورکړل، د تقدیر کارونو ته ګوره چې څو کاله وروسته  سلیم، اوږده ګیره، کچکول په لاس د زړو جامو سره په داسی حالت خپل کلي ته راځي چې هیڅوک یې نه پیژني، لومړی د کلی کور له وضعیت نه ځان خبروي او په دي پوهیږي، چې ورمي له نسیم سره واده کړی دی او دوه ماشومان هم لري.

سلیم په ډیر احتیاط  سره خپل کور ته راځي او غواړي چې د وروستي ځل لپاره د خپل پلار، مور، ورور او میرمني ورمي یوازي ځېري له لري د سوالګر ملنګ په جامو کې د خیرات غوښتلو په بانه د کلا له دروازي نه په ځېر سره وګوري او په خوله او زړه کې ورسره د تل لپاره مخه ښه وکړي. هغه یوازی خپله ورېره او وراره په غېږ کې نیسي،  ښکلوي یې، له دې ځایه درومي او نور ځان تری تم کوي، چې تر اوسه یې لا پته چا ونه لیدله.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ